## الدرس الثالث

## توحيد الأسماء والصفات

## دريم درس

## توحيد الأسماء والصفات

هغه نومونه او صفتونه چى الله پاک د خپل ځان دپاره ذکر کړى دى او هغه نومونه او صفتونه چي رسول صلى الله عليه وسلم د الله پاک دپاره بيان کړى دى، پدى ټولو باندى ايمان لرل ، داصفتونه او نومونه الله پاک لره په هغه طريقه ثابتول څرنګه چى د الله تعالى د شان سره لائق وى ، بغير د تحريف (بدلون) نه ، او بغير د تعطيل (انکار کولو) نه او بغير د تکييف (شکل بيانولو) او بغير د تمثيل(مثال بيانولو) نه منل، او د مجازى معني په ځائى حقيقى معنى باندى حمل کول ضروري دي ، (تحريف ديته وائي چي بغير د دليل نه د الله صفتونه او نومونه د خپلي ظاهري معني نه اړول

### د اسماءحسنى بعض مثالونه:

الله پاک خپل ځان په (الحي القيوم )باندى نامداره کړى دى ، نو په مونږه لازم دى چى ايمان ولرو پدى خبره چى «الحي» د الله پاک د نومونو نه يو نوم دى ، او دارنګه دا خبره هم په مونږه لازمه ده چي ايمان ولرو په هغه صفت چي ددي نوم نه معلوميږى ، چي هغه کامل ژوند دى چي مخکښې ورباندى نشتوالى نه وو ، او روستو به ورباندى فناء نه راځى، او دغه رنګه الله پاک خپل ځان په (السميع) باندى نامداره کړيدى ، مونږه به ايمان لرو چى السميع د الله پاک د نومونو نه يو نوم دى او سمع (آوريدل) د الله پاک دصفتونونه يو صفت دى چى الله پاک آوريدل کوى څرنګه چى دهغه دشان سره لائق وى